رَضِیَ اللہُ عَنْہُ

# شانِ اَمیرِ حمزہ

19-May-2022



هفته واره د سُنّتو ډکه اِجتِماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

19 مئی 2022ء د پاکستان په هفته وار اجتماع کښې کیدونکے بیان

# شانِ اَمیرِ حمزه رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ الله

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَافِ (**ترجمه:** ما د سُنَّتِ اعتکاف نِیَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاك فضیلت

د حضرت **عَبْدُالرَّحْمٰن بن عَوْف** رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ نه روایت دے: یوه ورځ خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل کور مبارك نه بهَر ته تشریف راوړو او یو باغ طرف ته ئې مخ کړو، حضرت **عَبْدُالرَّحْمٰن بن عَوْف** رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ اولیدلو نو شا ته شا ته پسے روان شو، خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باغ ته داخل شو، قبلے طرف ته ئې مخ کړو او سر ئې په سجده کښې کیښودو، **عَبْدُالرَّحْمٰن بن عَوْف** رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ لرې اودریدلو، لیدل ئې، فرمائي چې کله خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ډیره اوګږده سجده اوکړه، تردې چې زه اُویریدم، هسې نه چرته

د سجدے په حالت کښې الله پاك روح مبارك قبضه کړے وي، د دې خيال په راتلو زه ور مخکښې شوم، زما د قدمونو کشار ئې چې واوريدلو نو خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سر مبارك را اوچت کړو: تپوس ئې اوکړو: څوك؟ ما عرض اوکړو: حُضُور! عَبۡدُالرَّحۡمٰن. اوئې فرمائيل: څه کار دے؟ ما عرض اوکړو: يَـا رسُولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! تاسو دومره اوګږده سجده اوکړه، زه اُويريدم، هسې نه چرته الله پاك د سجدے په حالت کښې ستاسو روح مبارك قبض کړے نه وي.

د خپل خوږ صحابی د محبت نه ډکه خبره ئې چې واوريدله نو آخري نبـي مُحَمَّدِ عربـي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اوګږدے سجدے حکمت بيان کړو، اوئې فرمائيل: زما خوا ته جبريل عَلَیْہِ السَّلَام حاضر شو او عرض ئې اوکړو: يَـا رَسُولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! الله پاك فرمائي: څوك چې په تاسو دُرُودِ پاك اولولي، زه به په هغه رحمتونه نازل کړم، څوك په چې تاسو سلام اوليږي، زه به په هغه باندې سلامتيا نازل کړم. د دې نِعمَت شُکر ادا کولو د پاره ما دومره اوګږده سجده اوکړه.[1]

اَللّٰهُ اَكۡبَرۡ! اے عاشِقانِ رسول! غور اوکړئ! ۞ دُرُودِ پاك څوك وائي؟ اُمَّتـي ۞ رحمت په چا نازليږي؟ په اُمَّتـي باندې ۞ سلام څوك ليږي؟



[1]...مسندِ اَحْمَد، جلد:1، صفحه:191، حديث:1664۔

اُمَّتي ۞ د الله پاك سلامتيا په چا نازليږي؟ په اُمَّتي باندې ۞ سجدۀ شُکر څوك ادا کوي؟ د اُمَّت غم لرونکے، شفاعت کوونکے، د اُمَّت د بخښنې دُعا کوونکے، جنت ته رَسَوُونکے آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم...!

سُبۡحٰنَ اللّٰه! اندازه اولګوئ! زمونږ خوږ آقا، مکي مَدَني مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل اُمَّت سره څومره مينه کوي. اَللّٰه! اَللّٰه! اُمَّت ګناه اوکړي، آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شپے په ژړا ژړا تيرې کړي، اُمَّت ته نِعمَت نصيب شي، آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په شُکر کښې سجدے کوي. د اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ورور، مولانا حسن رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکي:

تم کو تو غلاموں سے ہے کچھ ایسی محبت | ہے ترکِ ادب ! ورنہ کہیں ہم پہ فدا ہو [1]

**وضاحت**: يَـا رسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! تاسو د خپلو غلامانو سره دومره محبت دے، دا ادب نه ده، ګني مونږ به وئيلے وے چې تاسو په خپلو غلامانو باندې قربان کيږئ.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

**فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دارومدار په



[1]... ذوق نعت، ص 211۔

نِيَّتونو باندې دے.[1]

اے عاشقانِ رَسُول! ښه نِيَّت بنده جنَّت ته رَسَوي. د بيان اوريدلو نه مخکښې ښه ښه نِيَّتونه اوکړئ: مَثَلاً نِيَّت اوکړئ چې ❀ د رضائے اِلٰهي د پاره به بيان اورم. ❀ علمِ دِين به زده کووم ❀ د خپلے اصلاح د پاره به پوره بيان اورَم ❀ په ادب سره به کښينم ❀ نصيحت به حاصلووم ❀ څه چې واورم ښځپله به پرې د عمل کولو او نورو د د رَسَولو کوشش کووم ❀ که خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نوم مبارك واورم نو دُرُوْدِ پاك به لوَلم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د بے وسو مدد کول

عظيم عاشِقِ رسول حضرت عَلَّامه يُوسُف بِن اسماعيل نبهاني رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ليکي: يو ځل سخت قحط راغے، په دې قحط سالئ کښې د حج ورځې هم راغلے. (د قحط سالئ باوُجود عاشقانِ رسول حج د پاره اورسيدل) حضرت شيخ احمد بِن محمد دِمياطـي مصري رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه هم د مصر نه دوه اوښان واخستل او خپله مور محترمه ئې د ځان سره کړه او د حج د پاره مکې مکرمې ته حاضر شو، د حج ادا کولو نه پس د سرکارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بارګاه کښې د سلام عرض کولو د پاره مدينے مُنَوَّرې ته



[1]...بخاري، کِتَاب:بَدءُ الْوَحي، صفحه:65، حديث:1۔

www.dawateislami.net

حاضر شو، دلته د هغوئي دواړه اوښان مړه شو، د هغوئي سره خرچه هم ختمه شوه. لِهٰذا سخت پریشانه شو چې اوښان هم مړه شو، د بیرته تللو کرایه هم نشته، اوس به کور ته بیرته څنګه ځو؟ د دې پریشانئ په حالت کښې شیخ احمد دِمیاطـي رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ د شیخ صَفِـیُّ الدِّین رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ په خدمت کښې حاضر شو او ټول صورتِ حال ئې عرض کړو، شیخ صَفِـیُّ الدِّین رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ اوفرمائیل: تاسو د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تره مبارك حضرت اَمیرِ حمزه رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ مزار مبارك ته حاضر شئ، هلته د قرآنِ کریم تلاوت اوکړئ او خپله پریشاني عرض کړئ!

شیخ احمد دِمیاطـي رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ په دې نصیحت باندې عمل اوکړو او د حضرت اَمیرِ حمزه رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ مزار مبارك ته حاضر شو، هلته ئې د قرآنِ مجید تلاوت اوکړو، بیا ئې د حضرت اَمیرِ حمزه رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ په خدمت کښې خپله پریشاني عرض کړه. هلته د حاضرئ نه پس چې کله بیرته خپل قیام ګاه ته را اورسیدلو نو مور ئې ورته اووئیل: بچیه! یو کس ستا تپوس کولو.

دا ئې چې واوریدل نو شیخ احمد دِمیاطـي رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ مسجدِ نَبَوي شریف ته حاضر شو، اوئې لیدل چې یو بارُعب او سپین ږیرے مُعَزَّز کس دے، هغوئي چې اولیدلو نو اوئي فرمائیل: شیخ احمد! مرحبا....!! شیخ احمد رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ فرمائي: زه زر ورنِزدې شوم د هغوئي لاس مې ښکل کړل. هغوئي

اوفرمائيل: احمد! تاسو مصر ته لاړ شئ! عرض ئې اوکړو: حُضُور! څنګه لاړ شم؟ زما سره خو کرايه نشته او اوښان مې هم مړه شوي دي. هغه بُزُرګ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه شيخ احمد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د ځان سره کړو او د مصري حاجيانو يوې خيمے ته لاړلو او يو کس ته ئې د اوښانو کرايه ورکړه او ورته ئې اوفرمائيل: تاسو شيخ احمد او د هغوئي مور محترمه مصر ته اُورَسَوئ. هغه مصري حاجي هم د هغه بُزُرګ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډير عِزَّت اوکړو، بيا شيخ احمد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه زر خپل سامان تيار کړو، مور محترمه ئې د ځان سره کړه او د مصري حاجيانو خيمے ته راغلو، تر هٰغه وخته پورې هغه نيك بُزُرګ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هلته تشريف فرما وو، د لمَانځه وخت وو، شيخ احمد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د هغه بُزُرګ سره مَسجِدِ نَبَوي شريف ته حاضِر شو، بُزُرګ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اوفرمائيل: احمد! تاسو لاړ شئ لمُونځ ادا کړئ! شيخ احمد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه جمات ته ننوتلو، لمُونځ ئې ادا کړو، په دې اِنتِظار کښې وو چې بُزُرګ به راشي خو هغوئي تشريف رانوړو. شيخ احمد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ما هغوئي ډير زيات اولټولو خو چرته ميلاؤ نه شو. په آخر کښې زه د شيخ صَفِـيُّ الدِّين رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خدمت کښې حاضر شوم او ټوله واقعه مې ورته عرض کړه، شيخ صَفِـيُّ الدِّين رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د هغه بُزُرګ حُليه شريف په باره کښې تپوس اوکړو نو ما ورته د هغوئي حليه بيان کړه، شيخ

صَفِـیُّ الدِّین رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه چې د هغه بُزُرګ حُلیه شریف په باره کښې واوریدل نو اوئې اوفرمائیل: هغه نیك بُزُرګ بل څوك نه وو بلکه د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تره حضرت اَمیرِ حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ وو کوم چې ستاسو پریشانئ لرې کولو د پاره تشریف راوړے وو.[1]

سرکار کے ہیں دِلبر آقا امیرِ حمزہ! | ہیں مُحِبّ حَبِیۡبِ داوَر آقا امیرِ حمزہ!
بھرتے ہیں سب کادامن اللہ کی عطا سے | آجائے جو بھی در پر آقا امیرِ حمزہ!
بھر دیجئے مری جھولی، صدقے میں مصطفےٰ کے | آیا ہوں تیرے در پر آقاامیرِ حمزہ!
طیبہ میں مَیں بھی آؤں، اب دیجئے اجازت | اے میرے غریب پرور آقا امیرِ حمزہ!

صَـلُّـوۡا عَـلَی الۡـحَـبِـیۡـب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## شهیدان ژوندي وي

اے عاشِقانِ رسول! تاسو اولیدل! حضرت اَمیرِ حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د خپل وصالِ ظاهري نه په سوونو کاله پس د یو پریشان حاله څنګه مدد اوکړو....! سُبۡحٰنَ اللّٰه!

کیدے شیطان د چا په زړه کښې وسوسه واچوي چې یو کس د دُنیا نه رخصت کیدو نه پس د دُنیا والؤ مدد څنګه کولے شي؟ په دې سلسله کښې عرض دے چې د قرآنِ کریم د آیتونو او ډیرو احادیثو نه دا خبره



[1]...جامع کرامات اولیا، جلد:1، صفحه:108 خلاصةً.

www.dawateislami.net

ثابته ده چې انبيائے كرام عَلَيۡهِمُ السَّلام او اوليائے عظام د الله پاك په عطا سره په خپلو خپلو قبرونو کښې ژوندي دي، د خپلو غلامانو فرياد اوري هم او د هغوئي مدد هم كوي. او د حضرت اَميرِ حمزه رَضِیَ اللہُ عَنْهُ ژوندي کیدو خو خاص طور قرآنِ كريم کښې بيان دے.

حضرت اَميرِ حمزه رَضِیَ اللہُ عَنْهُ په غزوۀ اُحد کښې شهيد شوے وو، او د غزوۀ اُحد د شهيدانو په باره کښې الله پاك فرمائي:

وَ لَا تَحۡسَبَنَّ الَّذِيۡنَ قُتِلُوۡا فِيۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ اَمۡوَاتًا ؕ بَلۡ اَحۡيَآءٌ عِنۡدَ رَبِّهِمۡ يُرۡزَقُوۡنَ ﴿۱۶۹﴾

(پارہ:4،سورۂ آل عمران:169)

[مفهوم] ترجمۀ كَنزُالايمان: او څوك چې د الله پاك په لاره کښې مړه شي هيڅ كله هغوئي مړه خيال مه كوئ بلكه هغوئي د خپل رب خوا ته ژوندي دي، رزق مومي.

سرداری تمہیں حاصِل ہے سارے شہیدوں کی — یوں حق کی حفاظت میں کی جان فِدا حمزہ
خُورشیدِ نبوت سے آئی ہے چمک تجھ میں — مدھم نہ کبھی ہوگا اب تیرا دِیا حمزہ (رَضِیَ اللہُ عَنْہُ)

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د حضرت اميرِ حمزه رَضِیَ اللہُ عَنْهُ مختصر تَعارُف

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** حضرت اَميرِ حمزه رَضِیَ اللہُ عَنْهُ زمونږ د خوږ آقا، مكي مدَني مصطفٰى صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تره دے، هغوئي د خوږ نبي

صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ولادت مبارك نه دوه كاله مخكښې پيدا شوے وو، د حضرت اَميرِ حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ځلور مشهور القاب دي: **(1): اَسَدُ اللّٰه** (د الله شير) **(2):اَسَدُ الرَّسُول** (د رسولِ پاک صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم شير) **(3)::فاعِلُ الْخَيْرات** (ډير د خير كارونه كوونكے) او **(4):سَيِّدُ الشُّهَدَاء**دے.[1]

## د حضرت اميرِ حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ سره د محبت حكم

الله پاك په قرآنِ كريم كښې ارشاد فرمائي:

**قُلْ لَّاۤ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَیْهِ اَجْرًا اِلَّا الْمَوَدَّةَ فِی الْقُرْبٰى ؕ** [مفهوم]ترجمۂ کَنزُالایمان: تاسو اوفرمائي! زه په دې باندې ستاسو نه څه اُجرت نه طلب كووم خو د خپلوانو محبت. (پارہ:25،سورۂ شوریٰ:23)

په دې آيتِ كريمه كښې د رَسُولِ كريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خپلوانو سره د محبت كولو حكم شوے دے، حضرت اَميرِ حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ هم د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خپلوانو كښې دے بلكه په ډيرو حالتو كښې حضرت اَميرِ حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د رسولِ كريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خپل دے: **(1)** هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د حُضُورِ اكرَم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تره دے **(2)** د حضرت اَميرِ حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ والده د حضرت آمِنه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہَا د تره لور ده،



[1]...شرح زرقانی مواہب الدنیہ، جلد:4، صفحہ:470، اُسد الغابۃ، جلد:2، صفحہ:67۔

www.dawateislami.net

داسې حضرت اَمیرِ حمزه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د خوږ نبـي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ترور ځوئ شو (3) حضرت اَمیرِ حمزه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د خوږ نبـي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم رضاعي ورور هم دے چې حضرت ثُوَیبه او حضرت حلیمه سعدیه رَضِیَ اللهُ عَنْهُما دواړه د خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم رضاعي موریانې دي، حضرت اَمیرِ حمزه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ هم د دواړو پـۍ ښنبلي دي.

داسې حضرت اَمیرِ حمزه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د حُضُورِ اکرَم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دریو وجهو خپل دے، لِهٰذا د هغوئي سره محبت کول هم په هرمسلمان باندې لازم او ضروري دے.

کیا پوچھتے ہو کیا ہیں حضرت امیرِ حمزہ     حیرت کی انتہا ہیں حضرت امیرِ حمزہ
اللہ رے یہ نسبت، اللہ رے یہ عظمت     سرکار کے چچا ہیں حضرت امیرِ حمزہ

## د اسلام قبلولو واقعه

حضرت اَمیرِ حمزه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د ښکار کولو ډېر شوقین وو، یو ځل هغوئي د ښکار د پاره ځنګل ته تلي وو، په دغه ورځ ابُوجهل د خوږ نبـي محبوبِ عربي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سخته ګستاخي کړې وه او د خوږ نبـي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره ئې ډېر نازیبا سلوك کړے وو، حضرت اَمیرِ حمزه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د ښکار نه بیرته راغلو نو هغوئي ته د دې خبر اوشو، هغوئي د دې په اوریدلو سخت غُصّه شو او [د غُصّے] په دغه حالت کښې د ابُوجهل خوا ته

اورسیدلو او هغه ئې اووهلو. ابُوجهل خپله صفائي بيانولو سره اووئيل: اے حمزه! آيا ته نه وينې چې محمد (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) څنګه دِين راوړے دے؟ هغوئي زمونږه بُتانو ته ردې بدې وائي او زمونږه پلارانو نيکونو ته بد عقله وائي. حضرت اَميرِ حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ هُغه وخت لا اِيمان نه وو راوړے خو هغه وخت د هغوئي په دماغو او زړه کښې د خپل وراره (يعني د حُضُورِ اکرَم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) محبت غالِب وو. هغوئي د ابوجهل خبره واوريده او اوئې فرمائيل: ته واقعي بدعقله ئې چې په خپلو لاسو جوړ کړے کاڼړے خدائے منے. زه ګواهي ورکووم چې د الله پاك نه سِوا څوك د عبادت لائق نشته او محمد صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د الله پاك رښتينې رسول دے.[1]

دغه وخت د حضرت اَميرِ حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ په زړه کښې د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم محبت غالب وو، هغوئي کَلِمهٔ شهادت اولوستله، فرمائي: بيا وروسته زه پريشانه شوم، ما ټوله شپه په سوچ او فِکر کښې تيره کړه، په سبا له د سحر په وخت زه حرمِ کعبه ته حاضر شوم او په ژړا ژړا مې د الله پاك په بارګاه کښې دُعا اوکړه چې يا الله پاکه! زما سينه د حق د پاره بيرته کړې او زما نه شك لرې کړې، ما لا دُعا پوره کړې نه وه چې زما د زړه نه شك ختم شو او يقين مې پوخ شو.



[1]…تفسير کبير، پاره:8،سورهٔ انعام، تحت الآية:122، جلد:5، صفحه:134۔

www.dawateislami.net

بیا زه د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضر شوم، د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت کښې مې ټول صورتِ حال بیان کړو نو خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هم زما په حق کښې دُعا اوفرمائیله.[1]

## د اَمیرِ حمزه په شان کښې آیت نازل شو

خوږو اسلامي وروڼړو! حضرت اَمیرِ حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د اسلام د دولت نه مالا مال شو نو هغه وخت د هغوئي په شان کښې دا آیتِ کریمه نازل شو:

اَوَمَنۡ كَانَ مَيۡتًا فَاَحۡيَيۡنٰهُ وَجَعَلۡنَا لَهٗ نُوۡرًا يَّمۡشِىۡ بِهٖ فِى النَّاسِ كَمَنۡ مَّثَلُهٗ فِى الظُّلُمٰتِ لَيۡسَ بِخَارِجٍ مِّنۡهَا ؕ كَذٰلِكَ زُيِّنَ لِلۡكٰفِرِيۡنَ مَا كَانُوۡا يَعۡمَلُوۡنَ ﴿۱۲۲﴾ (پارہ:8،سورۂ انعام:122)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزالایمان: او آیا هغه کوم چې مړ وو نو مونږه هغه ژوندے کړو او د هغه د پاره مو یو نُور جوړ کړو چې په هغې سره په خلقو کښې ځي، هغه به د هغه په شان شي کوم چې په تیارو کښې دے، د هغې نه وتونکے نه دے.[2]

## د ژوند حقیقي مفهوم

اے عاشِقانِ رسول! په دې آیتِ کریمه کښې د ژوند یوه عجیبه فلسفه بیان شوي ده، عام طور حرکت ته ژوند وئیل کیږي، د چا چې ساه ګاني رواني وي، کوم چې خبرے کولے شي، اوریدل کولے شي، ګرځیدے شي،



[1]...الروض الانف، اسلام حمزة، جلد:2، صفحه:51۔

[2]...تفسیر کبیر، پارہ:8،سورۂ انعام، تحت الآیة:122، جلد:5، صفحه:134۔

هغه ته ژوندے وائي، خو په دې ځاۍ کښې قرآنِ کريم د ژوند يو بل مفهوم بيان کړے دے. اوګورئ!

حضرت اَميرِ حمزه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ دُنيا ته تشريف راوړلو 40 کالو نه زيات تير شوي وو، هغوئي به ګرځيدلو هم او خوراك څښاك به ئې هم کولو، ښکار به ئې هم کولو، د دې باوُجود الله پاك اوفرمائيل: كَانَ مَيْتًا [مفهوم] ترجمۂ كَنُزالايمان: هغه کوم چې مړ وو.

بيا چې کله هغوئي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ اسلام قبول کړو، زړه ئې د نُورِ اِيمان نه روښانه شو نو الله پاك اوفرمائيل: فَاَحْيَيْنٰهُ [مفهوم] ترجمۂ كَنُزالايمان: نو مونږه هغه ژوندے کړو.

معلومه شوه اصل ژوند د زړه ژوند دے، د چا په زړه کښې چې د اِيمان نُور موجود دے، هغه ژوندے دے، او د چا په زړه کښې چې دا نُور موجود نه دے، د هغه زړه هم مړ دے، هغه ښځپله د ژوندو په شکل کښې مړ دے.

زِندگی زِندہ دِلی کا نام ہے | مُردہ دِل کیا خاک جیا کرتے ہیں

ژوند د ژوندي زړه نوم دے | مړ زړه به څه خاك اوسي ژوندے

## د زړه حفاظت اوکړئ...!

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! دلته معلومه شوه چې د زړه حفاظت کول زيات ضروري دي، نن سبا زمونږ خلق د ظاهري بدن په ښائسته کولو

باندې ډیره تَوَجُّه ورکوي، زمونږ بدن ته هره ورځ د څومره خوراك حاجت دے؟ څومره کلو ضروري دے، جسماني طور کمزوري راشي نو د ډاکټر خوا له ځو، خلق خپل بدن **چُست** ساتلو د پاره ورزش هم کوي او بدن برابر ساتلو د پاره ویټ لفټنګ (***Weightlifting***) هم کوي.

پخپله خپل بدن تندُرُست ساتلو کوشش کول بد نه دي، البته دا د سوچ خبره ده چې آیا دا ټول مونږه د زړه په مُعامَله کښې هم کوو؟ آیا کله مونږه سوچ کړے دے چې زمونږه زړه تندُرُست دے او که نه؟ چرته مونږه باطني طور خو ناجوړه نه یو؟ چرته زمونږ په زړه کښې حَسَد، تَکَبُّر، بُغض، کینه وغیره اِیمان بربادوونکي بیمارئ خو نه دي پیدا شوي؟ په **افسوس** سره عرض کیږي چې عام طور دې طرف ته تَوَجُّه نه ورکړے کیږي. حالانکه اصل ژوند خو د زړه ژوند دے. چا ډیر ښه وئیلي دي:

دِلِ مُردَہ دِل نہیں،اسے زِندہ کر دوبارہ | یہی ہے اُمّتوں کے مرضِ کُہن کا چارہ

**مطلب**: دا دے چې د قومونو د اصل بیمارئ علاج دا دے چې د هغوئي زړه ژوندے کړے شي.

## انسان د دوو څیزونو د مجموعے نوم دے

**یاد لرئ!** انسان د دوو څیزونو د مجموعے نوم دے: **(1)** بدن **(2)** روح. خالي روح وي، بدن نه وي نو هغې ته انسان نه شي وئیلے. دغه شان خالي

بدن وي، روح نه وي نو هغه ته مړے وائي. معلومه شوه انسان د بدن او د روح د مجموعے نوم دے، که مونږه خپل انسانيت برقرار ساتل غواړو نو څومره چې مونږه د بدن فِکر کوو، د دې نه زيات مونږ له د خپل روح هم فِکر پکار دے، که ظاهري بدن طاقتور وي خو په دې کښې دننه ضمير مړ وي نو انسان انسان نه پاتي کيږي، درنده جوړيږي او که روح طاقتور وي، ظاهري بدن که کمزورے هم شي نو بيا هم په انسان کښې انسانيت باقي پاتي کيږي. مونږ له پکار دي چې مونږه د زړه د ژوند هم ضرور فِکر اوکړو، د خپل زړه باطني بيمارو (مثلاً حسد، تَکَبُّر، اوګږده اميدونو وغيره) نه بچ شو.

د مکتبةُ المَدينه ښکلے ښائسته کتاب **باطنی بیماریوں کی معلومات** په نوم دے. دا کتاب واخلئ او اولولئ ئې، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! د باطني مرضونو معلومات به در ته حاصل شي، په دې کتاب کښې د باطني بيمارو نومونه، د هغوئي تعريفونه، د دې بيمارو مُتَعَلِّق قرآني آيتونه او احاديث او د دې بيمارو علاج هم ليکلے شوے دے. الله پاك دې مونږ ټولو ته د ظاهري او باطني بيمارو نه حفاظت راکړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د حضرت اَميرِ حمزه رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ فضائل

### الله پاك ښه وعده فرمائيلي ده

په سيپارۀ 20، سورۀ قصص، آيت: 61 کښې ارشاد دے:

| [مفهوم] ترجمۂ کَنزُالایمان: نو آیا هغه د چا سره چې مونږه ښه وعده کړي ده، هغه به ورته میلاو شي په شان د هغه څه چا ته چې مونږه په دُنیاوي ژوند کښې فائده ورکړي ده بیا به د قیامت په ورځ قید کړے حاضر کړے شي. | اَفَمَنْ وَّعَدْنٰهُ وَعْدًا حَسَنًا فَهُوَ لَاقِیْهِ كَمَنْ مَّتَّعْنٰهُ مَتَاعَ الْحَیٰوةِ الدُّنْیَا ثُمَّ هُوَ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ مِنَ الْمُحْضَرِیْنَ ﴿۶۱﴾ (پارہ:20،سورۂ قصص:61) |
|---|---|

په دې آیتِ کریمه کښې دوه انسانان دي: **(1)** یو هغه د چا سره چې اللّٰه پاك د جنَّت وعده فرمائیلې ده، هغه به ضرور جنَّت ته ځي او **(2)** دویم هغه چا ته چې دُنیاوي مال ورکړے شوے دے، بیا به د قیامت په ورځ هغه قید کړے حاضر کړے شي، آیا دا دواړه برابر کیدے شي؟ هیڅ کله نه شي کیدے. مُفَسِّرینِ کِرام فرمائي: دا آیتِ کریمه هم د حضرت اَمیرِ حمزه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ او ابُوجهل مُتَعَلِّق نازل شوے دے، په دې آیتِ کریمه کښې هغه انسان د چا سره چې اللّٰه پاك د جنَّت فرمائیلې ده، د دې نه مراد حضرت اَمیرِ حمزه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ دے، او هغه کس چا ته چې دُنیاوي مال ورکړے شو خو د قیامت په ورځ به هغه قید کړے راویستے شي، د دې نه مراد ابُوجهل دے.[1]



[1] ...ذخائر العقبیٰ، صفحه:300۔

## د اللّٰه و رسول ازمرے

په مُعَجم كبير كښې دي: د اللّٰه پاك آخري نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰه عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: په هغه ذات مې دې قَسَم وي د چا په قبضه كښې چې زما ځان دے! بيشكه په ووم آسمان ليك دي: حَمۡزَةُ بۡنُ عَبۡدِ الۡمُطَّلِبِ أَسَدُ اللّٰهِ وَأَسَدُ رَسُوۡلِهٖ يعني حضرت حمزه بن عبد المُطَّلِب د اللّٰه او د هغه د رسول صَلَّى اللّٰه عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ازمرے دے.[1]

وہی شیر ہیں خُدا کے اور شیر مصطفےٰ کے | ہیں مُحِبِّ حبیبِ داور آ قا امیر حمزہ!

**ترجمه:** حضرت اَميرِ حمزه رَضِيَ اللّٰه عَنۡهُ د اللّٰه پاك او د مصطفٰى صَلَّى اللّٰه عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ازمرے دے، د خوږ آقا صَلَّى اللّٰه عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم محبوب هم دے.

## حضرت حمزه په جنَّت كښې ډېره لګولي وه

د حضرت عبدُ اللّٰه بِن عبَّاس رَضِيَ اللّٰه عَنۡهُمَا نه روايت دے چې د اللّٰه پاك آخري نبـي صَلَّى اللّٰه عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: د شپے زه جنَّت ته داخل شوم نو اومې ليدل چې حضرت اَميرِ حمزه (رَضِيَ اللّٰه عَنۡهُ) د خپلو دوستانو سره موجود وو.[2]

په روايت كښې دي، فرمائي: د شپې جنَّت ته داخل شوم نو اومې ليدل



[1]...معجم کبیر، جلد:2، صفحه:266، حدیث:2881۔

[2]...استیعاب، باب جعفر، جلد:1، صفحه:314ملتقطاً۔

www.dawateislami.net

چې حضرت جعفر طَیَّار رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د فرښتو سره اَلوَتلو او حضرت اَمیرِ حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په تخت باندې ډېره لګولې وه ناست وو.[1]

## د جبریلِ اَمین عَلَیْہِ السَّلَام زیارت ئې اوکړو

یو ځل سَیِّدُ الشُّهداء حضرت اَمیرِ حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمتِ اقدس کښې عرض اوکړو: یَـا رَسُولَ الـلّٰـه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! زه جبریلِ امین عَلَیْہِ السَّلَام په اصل صورت کښې لیدل غواړم، نبـي کریم اوفرمائیل: خوږه تره! تاسو د هغې طاقت نه لرئ. حضرت اَمیرِ حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ بیا بیا عرض اوکړو (چې زه ئې لیدل غواړم)، په دې باندې خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: په زمکه کښینه! حضرت اَمیرِ حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ کښیناستلو. لږ ساعت پس جبریلِ امین عَلَیْہِ السَّلَام په کعبه شریف باندې راکوز شو، رَسُولِ اکرَم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: خوږه تره! سترګې بره کړه! او اوګوره! حضرت اَمیرِ حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ چې څنګه نظر اوچت کړو، حضرت جبریلِ امین عَلَیْہِ السَّلَام ئې په خپل اصل صورت کښې اولیدلو نو طاقت ئې اونه لرلو او بےهوشه شو.[2]



[1]...مستدرک، کتاب معرفة الصحابة، جلد:4، صفحه:201، حدیث:4942۔

[2]...الطبقات الکبری، جلد:3، صفحه:8 ملتقطاً۔

## د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خوښ نوم

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! خوږ نبـي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خپل تره حضرت اَميرِ حمزه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ سره ډير محبت کولو، حضرت جابِر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: يو ځل يو کس د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په بارګاه کښې حاضر شو عرض ئې اوکړو: يَـا رَسُولَ الـلّٰـه صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! زما ځوئ شوے دے، د هغه څه نوم کيږدم؟ خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: زما د خپل تره حضرت حمزه بِن عبدُ المُطَّلِب رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نوم ډير خوښ دے، د خپل بچي دا نوم کيږده....![1]

## د حضرت اَميرِ حمزه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ شهادت

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! په 15 شَوَّالُ الْمُکَرَّم، سن 3 هجرئ د حق و باطل يو عظيم جنګ شوے دے، کومې ته چې غزوۀ اُحُد وائي، په غزوۀ اُحد کښې حضرت اَميرِ حمزه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ هم شريك وو، هغوئي په ډيره بهادرئ سره جنګيدلو، په آخِره کښې د شهادت اوچتې مرتبې ته اورسيدلو [يعني شهيد شو]،[2] د شهادت په وخت د هغوئي عمر مبارك 54 کاله وو.



[1]...مستدرک، کتاب معرفة الصحابة، جلد:4، صفحه:200، حديث:4940۔
[2]...معرفة الصحابة، جلد:2، صفحه:17۔

سرداری تمھیں حاصِل ہے سارے شہیدوں کی یوں حق کی حفاظت میں کی جان فِدا حمزہ
احسان نہ بھولے گا میدانِ اُحُد تیرا ہے اس کی شبِ جاں میں اب تیری ضیا حمزہ

## د حضرت اَمِيرِ حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۂ په شهادت باندې غمِ مصطفٰی

روایاتو کښې دي: سرکارِ مدینه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خپل تره حضرت اَمیرِ حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۂ د لاش خوا ته اودریدلو او اوئې فرمائیل: يَاحَمْزَةُ اے حمزه! يَاعَمَّ رَسُوْلِ اللّٰهِ اے د رسولُ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تره مبارکه! وَأَسَدَ اللّٰهِ وأَسَدَ رَسُوْلِهٖ اے د الله او د رسول ازمریه! يَاحَمْزَةُ يَافَاعِلَ الْخَيْرَاتِ اے حمزه! اے په نیکئ کښې مخکښې تللو والا! يَاحَمْزَةُ يَاكَاشِفَ الْكَرَبَاتِ اے حمزه! اے پریشانئ او غم لرې کوونکیه! يَاحَمْزَةُ يَاذَابًّا عَنْ وَجْهِ رَسُوْلِ اللّٰهِ اے حمزه! اے د رسُولُ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه دُښمنان لرې کوونکیه![1]

په یو روایت کښې دي: خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: اے خوږه تره! الله پاك دې په تاسو رحم اوفرمائي، تاسو ډیر زیات صلهٔ رحمي کوونکي وئ او د نیکئ په کارونو کښې مخ په وړاندې تلونکي وئ.[2]



[1]...ذخائر العقبیٰ، صفحه:306۔

[2]...معرفة الصحابة، جلد:2، صفحه:22۔

آپ کے دَم سے بڑھی شوکتِ اسلام شہا! باعثِ قُوَّتِ ایمان ہو حضرت حمزہ
آپ کو بخشا گیا سیدِ شہدا کا لقب دِین پہ اس طرح قربان ہو حضرت حمزہ
آپ کے اُسْوَۂ حسنہ پہ مشاہؔد بھی چلے اس نکمّے پہ یہ احسان ہو حضرت حمزہ

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د حضرت اَمیرِ حمزه رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ دوه اعلٰـی اوصاف

اے عاشِقانِ رسول! په دې حديثِ پاك كښې د الله پاك آخري نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حضرت اَميرِ حمزه رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ دوه خصوصي اوصاف ذِكر كړي دي: **(1)** **وُصُولُ الرَّحْم** (يعني ډير زيات صلة رحمي كولو والا) **(2)** **فُعُولُ الْخَيْرات** (ډيرې نيكۍ كولو والا).

كاش! مونږه هم دا دواړه اوصاف خپل كړو او د حضرت اَميرِ حمزه رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ فيضان حاصل كړو.

## د صلهٔ رحمۍ فضائل

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د صلهٔ رحمۍ په باره كښې درې احاديثِ مباركه اورو: **(1)** خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د چا چې دا خوښه وي چې د هغه په عمر او رزق كښې زيات والے اوشي نو هغه له پكار دي چې د خپل مور و پلار سره ښه سلوك اوكړي او د خپلو

خپلوانو سره صلهٔ رحمي اوكړي.[1] **(2)** طبراني په اوسط كښې د حضرت جابِر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت كړے دے چې حُضُورِ اكرَم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل كور مبارك نه بهر ته تشريف راوړو، مونږه خلق يو ځائ ناست وو، هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې مونږه اوليدلو نو اوئې فرمائيل: اے مسلمانانو! د الله نه اُويريږئ او صلهٔ رحمي اوكړئ ځكه چې د صلهٔ رحمۍ ثواب ډير زر ميلاويږي.[2] **(3)** د بزار او حاكم په روايت كښې دي: كوم كس چې دا تَمَنَّا لري چې د هغه عمر دې ډير وي، په رزق كښې فراخي وي او د بد مرګ نه بچ شي، هغه دې د الله پاك نه اُويريږي او صلهٔ رحمي دې اوكړي.[3]

**اے عاشِقانِ رسول!** حضرت سَيِّدُنا فقيه ابُو اللَّيث سَمَرقندي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: د صلهٔ رحمۍ **10** فائدے دي: **(1)** د الله پاك رِضا حاصليږي **(2)** د خلقو د خوشحالۍ سبب دے **(3)** فرښتې خوشحاليږي **(4)** په مسلمانانو كښې د هغه كس تعريف كيږي **(5)** شيطان ته د هغه نه خفګان رسي **(6)** عمر زياتيږي **(7)** په رزق كښې بركت كيږي **(8)** وفات شوي پلاران نيكو نه خوشحاليږي **(9)** په خپل مينځ كښې محبت زياتيږي او **(10)** د وفات نه



[1] …الترغيب والترهيب، كتاب البر والصلاة، باب بر الوالدين، صفحه:801، حديث:16۔

[2] …معجم الاوسط، جلد:4، صفحه:187، حديث:5664۔

[3] …مستدرک، كتاب البر والصلة، باب احاديث صلة الرحم، جلد:5، صفحه:222، حديث:7362۔

www.dawateislami.net

پس د هغه ثواب زياتيږي، ځکه چې خلق د هغه په حق کښې دُعائے خير کوي.[1]

## د نيکو د حرص فضائل

**(1)** د خوږ نبـي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: لَا تَحْقِرَنَّ مِنَ الْمَعْرُوفِ شَيْئًا وَلَوْ أَنْ تَلْقَى أَخَاكَ بِوَجْهٍ طَلْقٍ يعني د نيکۍ يوه خبره سپکه مه ګڼره که هغه ستا د خپل ورور سره په رونړ تندي ملاقات وي.[2] **(2)** د خوږ آخري نبـي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: اِحْرِصْ عَلٰى مَايَنْفَعُكَ وَاسْتَعِنْ بِاللّٰهِ وَلَاتَعْجِزْ يعني په دې باندې حرص اوکړه، کوم چې تا ته نفع درکړي او د الله نه مدد اوغواړئ او عاجزه مه کيږئ.[3]

اے عاشِقانِ رسول! شارِح مُسلِم حضرت عَلّامه شرفُ الدِّين نَوَوي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د دې حديثِ پاك لاندې ليکي: د الله پاك په عبادت کښې ښه حرص اوکړئ او په دې باندې د اِنعام لالچ اوساتئ خو په دې عبادت کښې په خپل کوشش باندې بروسه کولو په ځاۓ د الله پاك نه مدد اوغواړئ.[4] حکيمُ الاُمَّت حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د



[1]... تنبيه الغافلين، باب صلة الرحم، صفحه:73۔
[2]... مسلم، کتاب البر والصلة، صفحه:1014، حديث:2626۔
[3]... مسلم، کتاب القدر، باب فی الامر بالقوة، صفحه:1027، حديث:2664۔
[4]... شرح صحيح مسلم للنووی، جلد:8، صفحه:512، ملخصًا۔

www.dawateislami.net

دې حديثِ پاك لاندې ليكي: خيال كوئ چې په دُنياوي څيزونو كښې قناعت او صبر ښه دے خو د آخرت په څيزونو كښې حرص او بےصبري اعلٰى ده، د دين يوے درجے ته اورسئ نو قناعت مه كوئ مخكښې د تللو كوشش اوكړئ.[1] الله پاك دې مونږه د نيكو حرص لرونكي جوړ كړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د جنازې لمُونځ او د دفن كولو ځائ

په غزوۀ اُحد كښې شهيد شوي صحابۀ كرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوان كښې د ټولو نه اوَّل د حضرت اَميرِ حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ جنازه ادا كړے شوه، بيا يو يو شهيد راوړے كيدلو، د حضرت اَميرِ حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ خوا ته به كيښودلو او د هغه جنازه به ادا كيدله[2]، بعضو رواياتو كښې دي چې لس لس شهيدانو جنازه ادا كړے شوه، او په لسو صحابۀ كرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوان كښې به هر ځل حضرت اَميرِ حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ هم شريك كيدلو.[3]

## فرښتو ورله غُسل وركړو

حضرت اَميرِ حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ حضرت ابوبكر، حضرت عمر فاروق او حضرت علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم قبر مبارك ته كوز كړو، د الله پاك آخري نبي،

323

[1]…مرآۃ المناجیح، جلد:7، صفحه:211۔

[2]…طبقات الکبری، جلد:3، صفحه:7۔

[3]…سنن کبری للبیهقی، ابواب الشهید، جلد:4، صفحه:157، حدیث:6804۔

رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د قبر په غاړه تشريف فرما وو، خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: ما اوليدل چې فرښتې حضرت اَميرِ حمزه رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ ته غُسل ورکوي.[1]

## مزار مبارك

د حضرت اَميرِ حمزه رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ قبر مبارك په مدينه منَوَّره کښې د اُحد د غر خوا ته نِزدې دے. د هغوئي د مزار خوا ته دُعاګانے قبليږي او مرادونه اوريدے کيږي. عاشقانِ رسول د هغوئي قبر مبارك ته حاضريږي، ښې دُعاګانے غواړي، او د خپلې مرضئ مرادونه مومي.

## د ميلمنو حفاظت ئې اوکړو

شيخ سعيد بِن قُطب رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه به د حضرت اَميرِ حمزه رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ مزار مبارك ته ډير زيات حاضريدلو، عام طور د مدينے مُنَوَّرې اوسيدونکي عاشقانِ رسول په 12 رَجَبُ الْمُرَجَّب د حضرت اَميرِ حمزه رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ قبر مبارك ته حاضريږي خو سعيد بِن قُطب رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه به يو څو ورځې مخکښې حاضريدلو او د 12 رَجَبُ الْمُرَجَّب پورې به هلته [اُحد کښې] پاتې کيدلو. شيخ مُحَمَّد بِن عبدُاللطيف تهتام مالکي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: يوه ورځ زه هم د



[1]...طبقات الکبری، جلد:3، صفحه:7۔

www.dawateislami.net

شيخ سعيد رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ سره د حضرت اَميرِ حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ مزار ته حاضر شوم، شپه شوه نو ټول خلق اوده شو، زه د هغوئي د حفاظت د پاره ويخ پاتي شوم، د شپے ما هلته په اس سور يو کس اوليدلو، کوم چې د مزار خوا ته ګرځيدلو، ما په اس سور والا نه تپوس اوکړو: ته څوك ئې؟ اوئې فرمائيل: زما نوم حمزه بِن عبدُ المُطَّلِب دے او زه ستاسو حفاظت کووم. د دومره وئيلو نه پس حضرت اَميرِ حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ غائب شو. [1]

بابُ الدُّعا ہے بے شک جن کا مزارِ انور | وہ بندۂ خدا ہیں حضرت امیر حمزہ

## څه چې مو غوښتل ميلاو شو

حضرت ابُوالعبَّاس مَرسـي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: يو ځل زه د حضرت اَميرِ حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ مزار مبارك ته د حاضرئ د پاره روان شوم نو يو کس په ما پسې شا ته شا ته را روان شو، کله چې مونږه مزار ته اورسيدلو نو د مزار دروازه ېڅپله بيرته شوه، مونږه دننه داخل شو نو هلته مو د رِجالُ الْغَيْب (يعني اوليائے کرامو) نه يو کس اوليدلو، دغه وخت ما د الله پاك نه دُعا اوغوښتله: اَللّٰهُمَّ اَسْاَلُکَ الْعَفْوَ وَ الْعَافِيَةَ وَ الْمُعَافَاةَ فِی الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ اے الله پاکه! زه ستا نه په دُنيا او آخرت کښې د عافيت سُوال کووم.

حضرت شيخ ابُوالعبَّاس مَرسـي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: ما خپل ملګري ته



[1]…جامع کرامات اولیا، جلد:1، صفحہ:109 بتغیر قلیل۔

www.dawateislami.net

اووئيل:دا د دُعا د قبليدو وخت دے، د الله پاك نه چې څه غواړې اوغواړه! زما دغه ملګرې دُعا اوغوښتله: يا الله پاكه! ما ته دينار (د سرو زرو سِكه) ميلاؤ شي.

هغوئي رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ فرمائي: د دې ځائ نه چې فارغه شوم نو زه د خپل پيرومُرشِد حضرت ابُو الحسن شاذلي رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ په خدمت كښې حاضر شوم، هغه كس هم زما سره وو، له څه خبره مو كړې هم نه وه چې د هغې نه مخكښې شيخ ابُو الحسن شاذلي رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ هغه كس ته اوفرمائيل: اے كم هِمَّته! د دُعا د قبليدلو وخت وو او تا صرف يو دينار اوغوښتلو، تا د ابُوالعبَّاس په شان د دُنيا او آخرت كښې د عفو او عافيت سوال ولې اونكړو.[1]

## د دُعا يو ادب

اے عاشِقانِ رسول! معلومه شوه چې د الله پاك نيك بندګانو په خدمت كښې حاضري وې، مزاراتِ اولياء ته مو تلل نصيب شي او د دې نه علاوه چې كله هم دُعا غواړئ نو په فراخه زړه سره دُعا غوښتل پكار دي، د الله پاك په خزانو كښې څه كمے نشته، هغه رحمٰن و رحيم دے، الله پاك وَهَّاب (يعني ډير عطا كوونكے) دے، كله چې د الله پاك نه غواړئ نو بنده ولے شرميږي؟ دوه څلور پيسے، د يو څو وخته خوراك يا يو معمولي خواهش ولې



[1]…مرقاۃ المفاتيح، كتاب الزكاۃ، جلد:4، صفحه:315، تحت الحديث:1855۔

www.dawateislami.net

اوکړي؟ وړوکے غټ هر يو څيز غواړئ، بيا دا هم نه چې صرف دُنياوي نعمتونه، مال و دولت خو غواړئ، د آخرت بهتري نه غواړئ، نه، نه، داسې هيڅ کله نه دي کول پکار بلکه صحيح طريقه دا ده چې په دُعا غوښتلو کښې اوَّل د آخرت بهتري او خير اوغواړئ، بيا د دُنيا د بهترئ او خير او کوم حاجت وي هغه اوغواړئ. صرف دُنيا غوښتل او د آخرت فِکر نه کول ښه خبره نه ده.

اِلٰہی میں تیری عطا مانگتا ہوں | کرم مغفرت کی دُعا مانگتا ہوں
خدا تجھ سے تیری وِلا مانگتا ہوں | میں عشقِ شہِ انبیا مانگتا ہوں

## د خپل بچي نوم حمزه کيږده

يو ځل شيخ محمود کُردي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د حضرت اَميرِ حمزه رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ مزار مبارك ته حاضر شو او سلام ئې عرض کړو، فرمائي ما پخپله واوريدل چې حضرت اَميرِ حمزه رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ د مزار مبارك نه په اوچت آواز د سلام جواب راکړو او اوئې فرمائيل: اے شيخ محموده! ستاسو به يو بچے پيدا کيږي د هغه نوم حمزه کيږده. شيخ محمود رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: اللّٰه پاك واقعي ما ته بچے راکړو نو ما د هغه نوم حمزه کيښودو.[1]

سُبۡحٰنَ اللّٰه! خوږو اسلامي ورونړو! د حضرت اَميرِ حمزه رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ څه

323

[1] ...حجة الله على العالمين، المطلب الثالث، من كرامات حمزة، صفحه:614۔

ښکلے عجیبه شان دے، هغوئي شیخ محمود رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته د سلام جواب ورکړو، دا یو کرامت دے، د شیخ محمود رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بي بي محترمه په اُمِّید سره وه، د هغې علم لرل دویم کرامت دے او د څوئ پیدا کیدو خبر ورکول چې هلك به پیدا کیږي دا دریم کرامت دے.

## د مزار په خاوره کښې شِفا ده

عَلَّامه سمهودي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه لیکي: د حضرت اَمیرِ حمزه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د مزار مبارك خاوره خاكِ شِفا ده، د پخوانئ زمانے نه د نیك خلقو طریقه ده چې د حضرت اَمیرِ حمزه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د مزار مبارك خاوره وړي او هغه د دوائي په طور استعمالوي.[1]

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! شیخِ طریقَت، اَمیرِ اهلسنّت، حضرتِ علّامه مَولانا محمد الیاس عطّار قادِری دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَة لیدل شوي دي چې هغوئي د حضرت اَمیرِ حمزه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د مزار مبارك خاوره په سلائي کښې په خپلو سترګو کښې [د رانجو په شان] لګوي.

الله پاك دې مونږ ته هم د صحابهٔ کرامو عشق و ادب ته را نصیب کړي. اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

323

[1]...وفاء الوفاء بأخبار دار المصطفٰی، الفصل السادس، الاستشفاء بتراب صعیب، جلد:1، صفحه:60۔

# د شهيدانو فضائل

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! حضرت اَميرِ حمزه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ سَيِّدُ الشُّهَداء (يعني د شهيدانو سردار) دے، هغوئي په غزوۀ اُحد کښې شهيد شوي دي، د غزوۀ اُحد د شهيدانو په شان کښې الله پاك ارشاد فرمائي:

فَرِحِيۡنَ بِمَاۤ اٰتٰهُمُ اللّٰهُ مِنۡ فَضۡلِهٖ ۙ وَ يَسۡتَبۡشِرُوۡنَ بِالَّذِيۡنَ لَمۡ يَلۡحَقُوۡا بِهِمۡ مِّنۡ خَلۡفِهِمۡ ۙ اَلَّا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَ لَا هُمۡ يَحۡزَنُوۡنَ ﴿۱۷۰﴾ (پاره:4،سورۀ آل عمران:170)

[مفهوم]ترجمۀ کَنْزُالعِرْفان:(هغوئي) په دې باندې خوشحاله دي کوم چې الله هغوئي ته د خپل فضل نه ورکړي دي اوشاته(پاتي کيدونکو) خپلو ورونړو باندې خوشحاله دي کوم چې لا د دوئي سره نه دي ميلاو شوي او نه به په دوئي څه ويره وي او نه به غمژن شي.

د دې آيت لاندې په تفسير صراطُ الجنان کښې دي: په دې آيت کښې د شُهدائے کرامو مُتَعَلِّق بيان دے چې الله پاك په هغوئي باندې فضل و کرم کړے دے، انعامونه او احسانونه ئې پرې کړي دي، د مرګ نه پس ئې ورته اعلٰـى ژوند عطا کړے دے، هغوئي ته ئې خپل قُرب عطا کړے دے، د جنَّت رزق او اعلٰـى نعمتونه ئې ور عطا کړي دي، هغوئي ته د شهادت توفيق ورکړے دے، شُهدائے کرام د دې ټول نعمتونو خوشحالئ مناوهي.[1]



[1]...تفسير صراط الجنان، پاره:4، سورۀ آل عمران، تحت الآية:170، جلد:2، صفحه:92۔

www.dawateislami.net

د الله پاك آخري نبــي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: كله چې ستا ورونړه [يعني صحابۀ كرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم] په غزوۀ اُحد كښې شهيد شو نو الله پاك د هغوئي روحونه په شنو مرغو كښې كيښودل، هغوئي په جنَّتــي نهرونو باندې تيريږي، د جنَّتي باغونو ميوے خوري او د عرش په سوري كښې د سرو زرو په فانوسونو كښې آرام كوي، كله چې هغوئي دا نعمتونه اوليدل نو اوئې وئيل: كاش! زمونږه ورونړو ته معلوم وے چې الله پاك مونږ ته څه څه نعمتونه راكړي دي. په دې باندې الله پاك اوفرمائيل: ستاسو له طرفه زه دا زيرے ستاسو ورونړو ته رَسَووم، بيا الله پاك ارشاد اوفرمائيل:

| | |
|---|---|
| وَ لَا تَحْسَبَنَّ الَّذِیْنَ قُتِلُوْا فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ اَمْوَاتًاؕ بَلْ اَحْیَآءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ یُرْزَقُوْنَۙ﴿۱۶۹﴾ (پارہ:4،سورۂ آلِ عمران:169) | [مفهوم] ترجمۀ كنزالعِرفان: او خوك چې د الله په لاره كښې شهيد شي، هيڅ كله هغوئي مړي مه خيال كوئ بلكه هغوئي د خپل ربّ خوا ته ژوندي دي، هغوئي ته رزق وركړے كيږي.[1] |

اے عاشقانِ رسول! د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تره مبارك حضرت اَميرِ حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته الله پاك د شهادت اوچته مرتبه عطا كړي ده، الله پاك



[1]…مسند احمد، مسند بنی ہاشم، جلد:2، صفحه:165، حديث:2430۔

www.dawateislami.net

دې د حضرت اَمیرِ حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ په برکت مونږ ته هم په مدينه مُنَوَّره کښې د شين شين ګنبد په سوري کښې د سرو جالو مخې ته د شهادت مرګ را عطا کړي. اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

دے شہادت مجھے مدینے میں | از پئے شاہِ کربلا یا رَبّ!
قبر میری بنے مدینے میں | تجھ سے ہے یہ مری دُعا یا رَبّ!

## د شهادت مختلف صورتونه

په بهارشريعت کښې دي: شهادت صرف د دې نوم نه دے چې صرف په جهاد کښې قتل کړے شي بلکه د احاديثو مطابق د شهادت نور ډير صورتونه دي، مثلاً په يو حديثِ پاك کښې فرمائي: **(1)** څوك چې د طاعون نه مړ شي شهيد دے **(2)** څوك چې ډوب شي او مړ شي، هغه هم شهيد دے **(3)** په ذاتُ الجنب (د خيګر يوه بيماري ده، څوك چې په دې بيمارئ) کښې مړ شي، شهيد دے **(4)** څوك چې د خيټے د بيمارئ نه مړ شي، شهيد دے **(5)** څوك چې اوسوزي او مړ شي، شهيد دے **(6)** په چا چې ديوال را اولويږي او مړ شي، شهيد دے **(7)** زنانه د بچي په پيدا کيدو او په بے واده حالت کښې مړه شي، شهيده ده.

دغه شان د بعضو روایاتو مطابق د علمِ دِین په لاره کښې [طالبِ علم] مړ شي، هغه هم شهید دے، مُؤَذِّن چې د ثواب د پاره اذان کوي، دا به هم د شهادت مرتبه مومې، د فساد په وخت کښې په سُنَّت باندې عمل کولو والا خو ډېر زيات خوش قسمته دے چې هغه ته به د سلو شهيدانو ثواب ورکړے کيږي. علماء فرمائي: څوك چې هره ورځ 25 ځله دا لولي:

اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لِيْ فِي الْمَوْتِ وَفِيْمَا بَعْدَ الْمَوْتِ

چې كله وفات شي نو الله پاك به هغه ته د شهادت مرتبه ورکړي. دغه شان څوك په يوے بيمارئ کښې اخته شي، هغه 40 ځله دا لولي:

لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ سُبْحَانَكَ اِنِّيْ كُنْتُ مِنَ الظَّالِمِيْنَ

که په دې مرض کښې مړ شو نو د شهادت مرتبه به اومومي او که صحت مند شو او په دې مرض کښې وفات نه شو نو د هغه بخښنه به اوشي.[1]

اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ په بارګاهِ اِلٰهي کښې په مدينے مُنَوَّرې کښې د مرګ د آرزو داسې اظهار کوي:

دیدے مرنے کی مدینے میں سعادت دیدے | کس طرح سندھ کے جنگل میں مروں گا یارَبّ!
مجھ گنہگار پہ گر خاص کرم ہو جائے | جام طیبہ میں شہادت کا پیوں گا یا رَبّ!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

323

[1] ...بهارِ شريعت، جلد:1، صفحه:857تا860، حصه:4۔

## 12ديني كارونو كښې يو ديني كار "هفته واره اجتماع"

**اے عاشقانِ رسول!** نيك جوړيدلو او د قبر و آخرت د تيارئ ذِهن جوړولو د پاره د عاشِقانِ رسول ديني تحريك دعوتِ اسلامي ديني ماحول سره وابسته شئ او د ذِيلي حلقے 12 ديني كارونو كښې په اخلاص سره خپل كردار ادا كړئ او د ډيرو ثوابونو حقدار جوړ شئ.

په 12 ديني كارونو كښې يو ديني كار "هفته واره اجتماع" هم ده. راځئ چې په هفته واره اجتماع كښې پابندئ سره د شركت كولو ذِهن جوړولو د پاره يو مدني سپرلے واورو:

## د ګناهونو ډك ژوند مې بدل شو

د كراچئ د يو اسلامي ورور بيان دے: د دعوتِ اسلامي ديني ماحول كښې شامليدلو نه مخكښې ما د ګناهونو ډك ژوند تيرولو، په دُنياوي مزو كښې مصروفه اوسيدل زما معمول وو، د غلطو دوستانو صحبت زه ډير خراب كړے ووم، دوستانو سره به ټوله شپه په ګناهونو كښې اخته ووم، يو اسلامي ورور ما ته د مابنام په وخت د لمَانځه دعوت راكړو، معلومه نه ده چې د هغه په دعوت كښې څه اثر وو چې ما د هغه دعوت قبول كړو او هغه سره جمات ته روان شوم، د مابنام لمُونځ مې ادا كړو، د لمَانځه نه پس يو اسلامي ورور د **فيضانِ سُنّت** نه درس وركړو، د درس نه پس اسلامي

وروڼړو هفته وارې اجتماع له د تللو تياري شروع کړه. يو اسلامي وروړ ما ته هم په هفته واره اجتماع کښې د شريك کيدلو ترغيب راکړو، د هغوئې انداز داسې ښکلے وو چې زه فوراً هفته وارې اجتماع کښې شرکت کولو د پاره تيار شوم، بيا ډير زر اسلامي وروڼړو سره عالَمي مَدَني مرکز فيضانِ مدينه ته اورسيدم، هلته مې بيان واوريدلو، په ذِکرُ الله کښې شريک شوم، بيا ژړوونکې دُعا اوشوه. اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اسلامي هفته وارې اجتماع او د عاشقانِ رسول د صُحبت را باندې داسې اثر اوشو چې د دُعا په دوران کښې مې په ژړا ژړا د خپلو ګناهونو نه توبه اوکړه او راروان ژوند مې په نيکو کښې د تيرولو پوخ نِيَّت اوکړو، د اجتماع کښې شريکيدلو نه پس مې د لمُونځونو پابندي شروع کړه او د نيکو نه ډك ژوند تيرولو کښې مصروفه شوم.

اسی ماحول نے ادنٰی کو اعلٰی کر دیا دیکھو! | اندھیرا ہی اندھیرا تھا اُجالا کر دیا دیکھو!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو! د بيان په آخره کښې د سُنَّتو فضيلت او يو څو سُنَّتونه او آداب د بيانولو سعادت حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، شَهَنْشاهِ نُبُوَّت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائې: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِي فَقَدْ اَحَبَّنِي وَمَنْ اَحَبَّنِي كَانَ مَعِيَ فِي الْجَنَّةِ "چا چې زما سُنَّتو سره مَحَبَّت اوکړو هغه زما سره

مَحَبَّت اوکړو او چا چې زما سره مَحَبَّت اوکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي.“[1]

سینے تیری سُنَّت کا مدینہ بنے آقا جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

سِینه مې دِ شي جوړه د سنّتو مدینه خوږه آقا
جنّت کښې مې خپل جوړ کړه ګاونډي خوږه آقا

## سپین کفن کښې د کفن کولو سُنَّتونه او آداب

درې فرامینِ مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: **(1)** څوك چې مړے اولامبوي، کفن ور واغوندوي، خوشبو پرې اولګوي، جنازه اوچته کړي، جنازې لمُونځ اوکړي او څه بده خبره اووینې، هغه پټه کړي، هغه کس د خپلو ګناهونو نه داسې پاك کېږي لکه په کومه ورځ چې د مور د خیټې نه پیدا شوے وي **(2)** خپلو مړو ته ښه کفن ورکړئ ځکه چې هغوئې په قبرونو کښې په خپل مینځ کښې ملاقات کوي او (په ښه کفن سره) تفاخر کوي (یعني خوشحالیږي)[2] **(3)** خپلو مړو ته سپین کفن ورکړئ.[3]

اے عاشِقانِ رسول! کفن ور اغوستل سُنَّتِ مبارَکه دي ✿ د نارینه کفن (1)لِفافه یعني غټ څادر (2) اِزار یعني لَنګ (3) قمیص یعني کفني. د



[1]… مشکوٰۃ، کتابُ:الْاِیمان، بابُ:الْاِعۡتِصَام، جلد:1، صفحه:55، حدیث:175۔
[2]… مسند فردوس، جلد:1، صفحه:98، حدیث:317۔
[3]… ترمذی، کتاب الجنائز، باب ما یستحب من الاکفان، صفحه:261 حدیث:994۔

زنانه د پاره د دې دريو سره دوه نورې دي (4) **سينه بند** (5) **لُوپټه** ❁ کوم نابالغه چې د شهوَت حد ته رسيدلے وي هغه د بالغ په حکم کښې دے يعني بالغ ته څومره کپړې ورکړے کيږي، ده ته به هم ورکړے شي، د ده نه وړوکي هلك ته يوه کپړه اوجينئ ته دوه کپړے ورکولے شئ او هلك ته هم دوه کپړے ورکړے شي نو بهتره ده او بهتره دا ده چې دواړو ته پوره کفن ورکړئ اګرچې د يوے ورځې ماشوم وي ❁ صرف عُلما و مشائخ ته باعمامه کفن ورکولے شئ، د عامو خلقو مړي د عمامے سره دفن کول منع دي ❁ د نارينه په بدن باندې داسې خوشبو لګول جائز نه دي په کومو کښې چې زعفران ګډ وي، د زنانه د پاره (د زعفران خوشبو) جائز ده ❁ چا چې احرام تړلے وي (او په دغه حالت کښې وفات شو) د هغه په بدن باندې هم خوشبو اولګوئ او د هغه مخ او سر دې پټ کړے شي.[1]

مختلف سنّتونه زده کولو د پاره د مَکْتَبَۃُ الْمَدِیْنَہ دوه کتابونه "**بهارِشريعت**" **جلد3 حصّه 16** او د شيخِ طريقت، اَميرِ اهلسنت دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِيَه 91 صفحو رساله **550 سُنَّتيں اور آداب** هديةً واخلئ او اولولئ ئې. د سُنَّتو د تربِيَّت يوه غوره ذريعه د دعوتِ اسلامي مَدَني قافِلو کښې عاشِقانِ رسول سره د سُنّتو ډك سفر هم دے.



[1]...550 سنتيں اور آداب، صفحه:77و80 ملتقطاً۔

www.dawateislami.net

| | |
|---|---|
| لوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو | سیکھنے سنتیں قافلے میں چلو |
| ہوں گی حل مشکلیں قافلے میں چلو | ختم ہوں شامتیں قافلے میں چلو |

الله پاك دې مونږ ته د عمل كولو توفيق راكړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډكه اجتماع كښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګاني

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِیِّ الْاُمِّیِّ الْحَبِیْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِیْمِ الْجَاهِ وَعَلٰی اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمعے او زيارت مينځنۍ شپه باندے) دا دُرُود شريف پابندۍ سره كم ازكم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت كښې د سركارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دِيدار كوي او قَبَر كښې د داخليدو وخت كښې هُم، تر دې چې سركارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به هغه قَبَر كښې د خپل رَحمت نه ډكو لاسو باندې كوزوي.1 راځئ چې مونږه هم



1 . . . افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسة والخمسون، ص۱۵۱ ملخصًا

په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰی اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سیِّدُنا انَس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰهِ

صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحمَد صَاوِی رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب



1...القول البديع، الباب الثاني، ص٢٧٧

حاصِلیږي.[1] راځئ چې په شریکه ئې اُووائیو.

### ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَ تَرضٰی لَہٗ

یوه ورځ یو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدّیقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ تر مینځه کښینولو، په دې باندې صَحابَۂ کرام رَضِیَ اللہُ عَنۡہُم حیران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [یعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو.

### ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنۡزِلۡهُ الۡمَقۡعَدَ الۡمُقَرَّبَ عِنۡدَکَ یَوۡمَ الۡقِیَامَةِ

د شفِیعِ اُمَّت صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شریف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[3] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

### ﴿1﴾ د یو زر ورځو نیکۍ:

جَزَی اللّٰہُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا ھُوَ اَھۡلُهٗ



1...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاة الثانیة والخمسون، ص۱۴۹

2...القول البدیع، الباب الاول، ص۱۲۵

3...الترغیب والترہیب، کتاب الذکر والدعاء، ۲/۳۲۹، حدیث:۳۰

www.dawateislami.net

حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُمَا نه رِوايت دے چې سركارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونكي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيكئ ليكي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې دعا په لکه شبِ قدر ئې چې حاصل كړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لكه هغه چې شَبِ قَدر حاصل كړو.[2] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريكه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الۡحَلِيۡمُ الۡكَرِيۡمُ ، سُبۡحٰنَ اللّٰهِ

رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبۡعِ وَرَبِّ الۡعَرۡشِ الۡعَظِيۡم

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد



1 ... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة...الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث: ۱۷۳۰۵

2 ... تاريخ ابنِ عساكر، ۱۹/۱۵۵، حديث: ۴۴۱۵

www.dawateislami.net